مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۹/۲۴

# په بګرام او دوبۍ کې د طالبانو او امریکایانو لیدنې



ښاغلی مطمئن

د سپټمبر په ۲۳مه ځینو کورنیو رسنیو د نامعلومو سرچینو په حواله راپور خپور کړ چې د سپټمبر پر ۲۱مه، ۲۰۱۸ د طالبانو د رهبري شورا غړو په بګرام کې له امریکایانو سره لیدنې او کتنې کړي، راپور کې ادعا شوې چې د طالبانو مشران د ډیورنډ پولې هغې غاړې د کوټې ښار څخه د امریکایې چورلکې پواسطه د امریکایې پوځیانو د بګرام نظامي اډې ته راوړل شوې او بیرته کوټې ته رسول شوې.

ډیر ځله همدغه ډول رسنۍ همداسې متحیر او تعجب کوونکې خبرونه خپروي، او د یادو رسنیو په ادارو کې دا هم له هیچا پټه نه ده چې ځینې یې د پاکستان له آی ایس آی سره د ۲۰۰۱ ز .کال وړاندي؛ دوی خومره ژورې او عمیقې اړیکې درلودلې، تر دې چې کله د ډالري معاش حوس پرې زور شو، کابل ته راغلل، پټ ګرځیدل، چې د آی ایس آی سره د اړیکو له امله په کابل کې ستونزې ورته جوړې نه شي.

همدغه د ډالري معاش اخیستونکې تر ټولو ډیر بد او د سولې لوی دښمنان دي، دوی بل کوم کمال نه لري، یوازې د پردیو د ګټو پر محور راپورونه او لیکنې کول یې معایشیت دی، له همدې لارې خپلې ورځنۍ چارې مخکې وړي، او کله ناکله خو ټول شوې ډالر بیا نړیوال لوبېدلې غله ورڅخه یوسي او دوی همداسې په میدان خالي جیبونه پریږدي.
راځئ د څو شیبو لپاره د رسنۍ دا راپور ومنو چې د طالبانو د دوی په اصطلاح د کوټې شورا غړې امریکایانو بګرام پوځې اډې ته راوړي، که دا کار شوی وي:
۱ - ولې به طالبان دومره ساده ګان کیږي چې د غلو په ډول د خپل ډیر بد دښمن امریکایانو په چورلکه کې بګرام پوځې اډې ته ځي، هلته به امریکایې جنرالان د خپلو وسلو او پوځیانو په شتون کې چې پر طالبانو د رعب اچولو هڅه به کوي، او بیا به له طالبانو سره خبرې کیږي.
۲ – د سولې خبرې امریکایې جنرالانو کار دی، که د امریکایې سیاستوالو کار دی؟ په سیاسي برخه کې امریکا تازه اعلان کړي چې د افغان سولې پروسې لپاره یې [زلمی خلیلزاد](#) ټاکلی، او د بهرنیو چارو مرسیتیاله وزیره میرمن الیس ویلز له طالبانو سره مخامخ اړیکه کې ده، بیا خو په کار وه چې طالبانو په کابل کې د امریکا له سفارت سره لیدنه شوې وای.
۳ – که د امریکا سفیر جان باس او زلمی خلیلزاد بګرام ته ور وړل شوي وي، دا هم منطقي ځکه نه ده، چې خپله سفارت کې د چورلکو د کیناستلو معیاري ځای شته.
۴ – دا چې په کابل کې د ملګرو ملتونو استازی دفتر یوناما له طالبانو سره مخامخ اړیکې لري، طالبانو به ښه ګڼلې وای چې په کابل کې د یوناما دفتر کې له امریکایې چارواکو سره خبرې وکړي.
۵ – طالبانو په تکرار سره ویلې چې د سیاسي مذاکراتو لپاره یوازینی ادرس یې په قطر کې طالب استازي دي، او که د قطر دفتر څخه پرته کوم څوک د طالب په نوم له کوم هیواد، ادارې او اشخاصو سره اړیکې ساتي، هغوی د طالبانو استازولي نه شي کولای.
۶ – داچې د [سپټمبر پر ۱۹مه](#) همدغه رسنیو راپور ورکړ چې طالبانو په دوبۍ کې له امریکایانو سره کتلې، شونې وه چې دا ځل یې هم دوبۍ کې ناسته کړې وي، پر ځای د دې چې د امریکا په نظامي آډه کې له لویو لنګوټو سره کښېنه پورته وګرځي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۷ – د راپور بنه داسي ده چي پاکستان په جريان کي اچول شوی او طالب مشران له کوټي ښار څخه په امريکايي چورلکه کي راوړل شوي، چورلکي دوه ځله تګ راتګ کړي چي ځلور دوري کيږي، بيا ولي امريکايي جنرالان او چاروکي په کوټه کي ورسره نه کيښناستل، او طالبانو ولي ونه غوښتل چي په کوټه کي ورسره کښيني.
۸ – د نيکولسن د فعاليتونو په کرمو ورځو کي رسنيو د اپريل پر ۱۶مه راپور ورکړ چي د کندهار په هوايي اډه کي نيکولسن د دوی په اصطلاح د طالبانو د کوټي شورا له غړو سره ليده کاته وکړه، او موږ پوهيږو چي کندهار هوايي ډګر کوټي ته ډير نږدي دی، که د طالبانو مشران ربښتيا له کوټي ورسره اړيکي وای، نو بيا خو د موټر پو اسطه ډير ژر او پټ د کندهار هوايي ډګر ته را رسيدلای شوای، اړتيا څه وه چي له کوټي په امريکايي چورلکه کي بګرام ته په غلا راوړل شي.
۹ – کورنيو او بهرنيو رسنيو راپورونه خپاره کړل چي امريکايان له طالبانو دوی نظامي اډي غواړي چي د بګرام او هلمند شورابک اډي دي، آيا طالبانو به د اډي اندازه اخيستله؟؟!
۱۰ – او بالاخره افغان حکومت ولي پټه خوله دی، امريکايان ولي څه نه وايي، که دا کار شوی وي، امريکايان يو ځل بيا د افغان حکومت مشروعيت تر سوال لاندي راولي، او د افغان حکومت هغه ادعا چي د دوی په مالکيت او مشري به د سولي خبري کيږي، د حکومت او ولس تر منځ لا زياته بي باوري را منځته کوي.
ځو مياشتي مخکي داسي پټ راپورونه ورکول کيدل چي امريکايان نږدي شوي چي د طالبانو يوه لويه ډله له افغان حکومت سره د يو ځای کيدو اعلان وکړي، او دغه ډله ملامحمدرسول اخوند ته منسوبيدله، همدارنګه ويل کيدل چي بله ډله طالبان به د اسلامي دولت (داعش) سره د يو ځای کيدو اعلان کوي.
احتمال شته چي پاکستان د لوبي مهم لوبغاړی وي، او امريکا به غواړي پر طالبانو د فشار راوړلو لپاره همداسي معاملي وکړي، دا شوني ده چي د طالبانو په نوم ځيني سوداګر/ پروژوي کسان په امريکايي چورلکه کي راوړل شوي وي، او بيا د آی ايس آي له چينلونو همدي خبري ته د اصلي طالبانو په نوم هواء ورکول شوي وي، دلته د رسنيو د کارکونکو مسؤليت دی چي طالبان د پروژوي او تسليم شوو طالبانو سره ګډ نه کړي.
په وروسته وختونو کي دا راپورونه هم ورکول شول چي امريکا او افغان ملي امنيت رياست له ځينو کابل ميشتو طالبانو سر ټکولي چي د سولي پروسه کي يي سمه مرسته نه ده کړي، دا احتمال هم شونی دی، چي کابل کي ناستو ځينو پخوانيو طالبانو خپله سوداګري کړي وي، او د طالبانو د کوټي شورا په نوم يي کسان معرفي کړي وي، بيا هم د رسنيو استازو ته په کار ده چي خبر موثق او راپور چمتو کړي.
رسنی د افغان حکومت په ځير په تکرار د راپورونو په جوړولو کي تيروتني کوي، يا خو همدومره ناخبره دي، او يا داچي ورته ويل کيږي چي د افغان ولس د مغشوش کولو لپاره دغه ډول راپورونه چمتو کړي، او دغه کار د ملي ګټو مخالف او له افغان ولس سره ستر خيانت ګڼل کيږي.
**په دوبی کي د طالبانو او امريکايانو ناستي:**
د سيپټمبر پر ۱۷مه، ۲۰۱۸ راپورونه ورکول شول چي طالب استازي دوبی روان شوي او هلته به د يوناما او سور صليب له استازو سره ليدني وکړي، همدا ډول راپورونه خپاره شول چي طالب استازو په دوبی کي له امريکايي چاروکو سره ليدني کړي، او بيا وروسته اوازه وه چي زلمي خليلزاد په قطر کي له طالبانو سره پټه ناسته شوي.
پرته له شکه چي دوبی کي به د طالبانو د بنديانو کميسون او د شرکتونو او نجوګانو د کميسون غړو د يوناما په وساطت د سور صليب له کسانو سره لېدنه کړي وي، ځکه د روان کال د اګسټ پر ۱۴مه، طالبانو د سورصليب فعاليتونه تر پوښتني لاندي راوستل او د هغوی د فعاليت د بنديدو اړوند يي اعلاميه خپره کړه، د سور صليب استازو او يوناما له همهغه وخته هڅي کولي چي له طالب استازو سره پر مشکلاتو مخامخ خبري وکړي، چي ممکن دوبی کي پر يادو او ورته اړوند ستونزو به طالب استازو د يوناما او سور صليب استازو سره خبري کړي وي.
همدا رنګه کيدای شي د بنديانو د بد وضعيت په اړه هم بحثونه شوي وي، ولي په هيڅ صورت په دوبی کي د طالبانو د سياسي استازو خبري له امريکايي چاروکو سره نه دي شوي.
۱ – طالبان په قطر کي په رسمي ډول شتون لري، او د سياسي کميسون غړي او مشران يي په دوحه کي ميشت دي، که طالبان له امريکايانو سره خبري کوي، نو ښه ځای دوحه ده.
۲ – داچي امارات او قطر خپلو منځو کي د دښمني تر کچي اقتصادي او سيمئيز رقابتونه لري، قطر ته به درنه تمامه شي چي طالبان د دوحي پر ځای په دوبی کي له امريکايانو سره سياسي مذاکرات پر مخ وړي.
۳ – د قطر او اماراتو ترمنځ د رقابت يو ټکی همدا د طالبانو شتون په دوحه کي دی، اماراتو غوښتل چي پر قطر فشار راوړي، او طالبانو ته وعدي ورکړي چي اماراتو کي خپل رسمی دفتر پرانيزي، کوم چي طالبانو يي دا وړانديز ونه مانه.
غواړو چي پوه شو، په دوبی کي ځوک دي چي د طالبانو په استازولی له امريکايانو سره د سولي پروژه مخکي وړي.
ډير ځله موږ داسي راپورونه ليدلي او اوريدلي چي د افغان حکومت لوړ پوړي چاروکي د طالبانو له مشرانو سره په اړيکه کي دي، او دا ډول راپورونه هم خپاره شول چي امريکايان له طالب مشرانو سره په اړيکه کي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

کلونه وړاندې د طالبانو د وژل شوي مشر ملا اخترمحمد منصور د استازي په نوم دوکاندار له دوبۍ څخه د برېټانيا لخوا په چارټر شوي الوتکه کې کابل راوړل شو، د هغه وخت ولسمشر کرزي سره يې لېدنه وشوه، پاکستان په جريان کې وو، وروسته معلومه شوه چې هغه په کوټه ښار کې دوکاندار دی.
د جنوري ۱۳مه، ۲۰۱۸ په ترکيه کې د طالبانو د استازو په نوم غونډه جوړه شوه، او بيا معلومه شوه چې د شاتو سوداګر د طالبانو په استازولي شرکت کړی، له مجهول ادرسه مجهول کسانو همدا کار کړی وو.
داچې طالبان د کليوالو سېمو خلک دي، او له خپلو کليوالو سره په اړيکو کې بې غوري او ساده توب کوي، له همدې څخه ځيني ځيرک کسان ناسمه ګټه پورته کوي، او يا خو داچې مجهول کسان د ټليفون په کرښه له ځينو افغان سياستوالو سره اړيکه کې وي، او بيا له دوی څخه پيسې اخلي.
ما (ليکوال) ته ځينو مهمو افغان سياستوالو پخوا ويلي وو چې دوی د ملااخترمحمد منصور سره په مستقيم ډول اړيکه کې دي، چې دا خبره ماته هغه وخت هم د منلو نه وه.
زه (ليکوال) د انجنير احمدشاه احمدزي سره (۲۰۱۳ کال نيمايي) په مشعل پوهنتون کې ناست وم، يو ځوان راغی، انجنير احمدشاه ورسره ګوښې ته ولاړی، هغه ځان بيرته ووت، انجنير احمد شاه احمدزي زما څخه پوښتنه وکړه چې دا ځوان پيژني، ومې ويل چې هو! انجنير وويل چې ډير تکړه ځوان دی، هر وخت ماته د طالبانو د مشرانو پېغامونه راوړي، اوس روان دی، لومړی اسلام اباد ته ځي، له هغه ځايه په پېښور کې او بيا کوټه کې د طالبانو مشرانو سره ګوري.
انجنير احمد شاه ته مې وويل، پيسې دي ورکړي؟ هغه ويل هو! ورته مې وويل چې د ده ټوله موخه همدا ده، ځکه هغه ځوان ما پيژاندی او پوهيدم چې حکومت کې په ټيټو ادراو کې به کار کوي.
ځيني د منځنۍ کچې طالبان چې د افغان حکومت او يا امريکايانو لخوا نيول شوي، د پوښتنو ګرويژنو پر مهال هغوی ته ويل شوي چې ستاسي پېغامونه موږ ته د پلاني سړي لخوا را رسيدل، په داسې حال کې چې نيول شوي طالبانو امريکايانو او افغان چارواکو ته ويلي چې اصلاً له ياد سړي سره دوی کومه اړيکه نه درلوده، ولې هغه شخص د طالبانو په نوم د سولې پروژې اخيستې وې، او ډالر يې تر لاسه کړي وي.
همدا لړی تر نن ورځې پورې دوام لري، په دوبۍ کې د طالبانو د مرستيال مشر ملامحمد يعقوب اخوند په استازولی دوه کسان له امريکايانو سره ليدني او کتني کوي، او امريکايانو ته وايي چې له ملامحمد يعقوب اخوند سره په اړيکه کې دي.
**د کرکټ بورډ نوی ګمارل شوی رئيس عزيزالله فضلي،** چې دهمدې پروژې له برکته رئيس شو، او بل هم د ساپي په نوم کس په دوبۍ کې د ملا محمد يعقوب اخوند له نوم څخه ګټه پورته کوي، امريکايان يې له ډيرو هڅو او ناستو وروسته وهڅول چې د ملايعقوب اخوند په نوم له جعلي طالبانو سره يې کښينوي، او پرته له شکه چې دا د امريکايانو لويه تيروتنه ده، چې د غلطو ادرسونو له لارې د سولې پروسه ټکنی کوي.
که څه هم امريکايانو ته ځينو نا پيلو افغانانو دا پېغام رسولی وو چې ملا محمد يعقوب اخوند په کور کې کورکی نه جوړوي، او هغه اړتيا نه لري چې په پټه له امريکايانو سره اړيکي وساتي، بل داچې د قطر دفتر مشر شيرمحمد عباس ستانکزی او غړي يې تر ټولو زياتې ښې اړيکې له ملايعقوب اخوند سره لري، او د طالبانو رسمي درېځ هم دا دی چې د سولې هر ډول خبري دي د قطر د سياسي دفتر د لارې وشي، او دا ډول د طالبانو رسمي سرچينو په دوبۍ او بګرام کې د دوی له استازو سره د امريکايانو هر ډول ليده کاته رد کړي، ولې بيا هم امريکايان خطا ايستل کيږي، او د ملايعقوب له ادرسه له مجهولو او غلط ادرسونو سره اړيکې ساتي، او يا د طالبانو په نوم له مجهولو کسانو سره ليدني په نورو ځايونو کې کوي، دغه ډول اړيکې به پر امريکايانو د طالبانو بې باوري لا زياته کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ